مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ٢٠٢/١١/٢٩

# واجب القتل یاستئ!

**دا شعر مي د غزني په ننني پېښه کې د قصابي شوو انسانانو په پار خپروم.**

**د لنډ تاریخ سمڅې ته**

**سر ورښکاره کړه، لږ څه تم شه ورته**

**ظالمان خاندي**

**مظلوم چیغې وهي**

**هلته د وینو سیلاو**

**د وژل شوو د غړونو رنګارنګ انګازې**

**هلته هر پل کې سره تیغونه پراته**

**هلته بادونه هم د جنګ سندرې بیا ـ بیا وایي**

**هلته د وینو سونامي هر شېبه راتلای شي**

**هلته لښکر ـ لښکر آهونه پراته**

**په هغې سمڅې کې خوبني او ویاړ لیدلای نه شي**

**چې د زګېرویو، واویلا کورس غږونه جګ شي**

**نو د مرګونو سوداګر شوندو کې موسک شي زړه کې وایی زه یم**

**هلته ژړاوې واویلاوې عدالت پسې ګرځي**

**او قاتلین په لوړ اواز ورپورې خاندي وایي:**

**واجب القتل یاستئ!**

٢٠٢٠/١٠/٠٣
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ